
مسلم
خپرندویه ټولنه

Greater Afghan Library

# د کلیسا د پردو ترشا پټ رازونه

لیکوال
اشوک کولن یانګ

ژباړن
مولوي حمید الله بیان





# د کلیسا د پردو تر شا

# پټ رازونه

لیکوال
اشوک کولن یانګ

ژباړن
مولوي حمید الله بیان

# د کتاب پيژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د کلیسا د پردو تر شا پټ رازونه |
| لیکوال | اشوک کولن یانګ |
| ژباړن | مولوي حمید الله بیان |
| خپرندوي | مسلم خپرندویه ټولنه ــ جلال اباد |
| اډونکی | عزت الله سلطانزی 0093706912702 |
| کمپوز | مصلح الدین حامد |
| چاپ کال | ۱۳۹۱ ل |
| چاپ شمیر | ۱۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | ۶۵ |


دا کتاب دباور کتابتون څخه ښکته شوی

https://Bawar.Net

دنور کتابونو لپاره د باور کتابتون له ویبپاڼې څخه لیدنه وکړۍ

BAWAR LIBRARY
باور کتابتون
FB:Ezatullah.sultanzai

بسم الله الرحمن الرحیم

**د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي**

د ترلاسه کېدو ځایونه

**مسلم کتاب پلورنځی**

پته اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان

اړیکشمېرې ۰۷۰۷۷۵۴۰۳۱ – ۰۷۰۶۲۶۲۴۶۳

برېښنالیک muslim-pub@yahoo.com

**ضیاء کتاب پلورنځی،** پته اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال آباد ښار

**جواد کتاب پلورنځی،** کونړ

**صداقت کتاب پلورنځی،** ارګ بازار، کندهار - ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

## د لیکوال پېژندنه

اشوک کولن یانګ دسوډان دجنوب په کوچنیو ټاپوګانو کې واقع د رول په ښار کې زېږېدلی دی او په هماغه سیمه کې یې خپلې لومړنۍ زده کړې سرته رسولې منځنۍ زده کړې یې دافریقادوچي یوګنډا هیواد کې سرته رسولي دي وروسته یې دامریکا د ټیکاساس په ایالت کې دعقایدو دپوهنې په زده کړه پیل وکړو اشوک سوډان ،ناروې ،یوګنډا هیوادونو څخه په پلان پوهنه ،اداره کلیسایې زده کړه ټولنیز پرمختګ اوتنصیر (مسیحي تبلیغ) کې ډیپلومې ترلاسه کړې دي وروسته یې د انګلستان د اکسفورډ پوهنتون څخه په مقارنة الادیان (د ادیانوپرتلیز لوستنه) کې دماسترۍ سند ترلاسه کړ، اشوک په کلیسا کې مختلفې دندې سرته رسولې دي چې په لاندې توګه وړاندې کېږي:

۱- دکلیسا دمرستې لپاره دناروې دټولنې مشري.

۲- دناروې لخوا ماشومانو ته دپاملرنې دټولنې مشري.

۳- دسوډان څخه دخطرونو دلرې کولو دټولنې مشري چې دسویډن ،ډنمارک او هالینډ لخوا جوړه شوې وه.

۴- دافریقا په ختیځ اومنځنۍ برخه کې دنړیوالو کلیساګانو دشورې عمومي منشي.

۵- دافریقا په ختیځ اومنځنۍ برخه کې دنړیوالې کلیسا دزده کړې دڅانګې مسؤل.

۶- دسوډان د نیل په فاکولته کې د عقایدو او الهیاتو رییس.

۷- په افریقا کې د مسیحي ځوانانو دټولنې عمومي منشي.

۸- په افریقا کې دمسیحانو دیووالې دټولنې عمومي منشي ۲۰۰۲ میلادي کال کې د اسلام په سپېڅلې دین مشرف شو او په اوسني وخت کې د پرمختګ لپاره د اسلامي یووالې د ټولنې عمومي منشي دی.

**پوښتنه:** لوید یځي خیریه ټولني په اسلامي نړۍ کې په ځانګړې توګه په افریقا کې څه رول لوبوي؟

**ځواب:** په اصل کې لوید یځي خیریه ټولنې کلیسایې اوتنصیري ټولني دي چې د خیریه ادارو ترنامه لاندې کار کوي په حقیقت کې د هغوی ټولې هلې ځلې د مسلمانانو عیسایي کول او د اسلام دپاک دین څخه د مسلمانانو اړول دي چې دمخکې نه د جوړشوي پلان په اساس سرته رسیږي.

**پوښتنه:** څومره ټولنې د نړیوالو کلیساګانو د شوري لخوا اداره کیږي؟

**ځواب:** د ټولو ټولنو شمېر معلوموول ګران کاردی خو دومره ویلاي شو چې شمېر یې زرګونو ته رسیږي یواځې د سوډان هیواد کې له پنځه سوه زیاتې تنصیري ټولنې کار کوي.

**پوښتنه:** دکلیساپورې تړلي ټولني او اداري په څه توګه مسلمانانو عیسایان کوي؟

**ځواب:** هیڅکله هم تنصیري یامسیحي خیریه ټولني دپلان څخه پرته کارنه کوي بلکې هغوی ټول دمنظم پلان او پروګرام سره خپل کار سرته رسوي تر ټولو لومړی هغه سیمه اوعلاقه ترکتنې او مطالعي نیسي کومه چې غواړي عیسایت په کې خپور کړي د هغوی دین مذهب ترکتنې لاندې نیسي او دخلکو عقیده او په دین پورې تړاو هم مطالعه کوي د هغو خلکو اړتیاوي او ضرورت مطالعه کوي چې کومو شیانو ته ضرورت لري لکه زده کړي ،روعتیایې کارونه سرکونه او داسې نور شیان دخلکو دمسیحي کولو لارې چارې او طریقي زیاتي

دي کوم کسان چې دهغوی عیسوي کېدل تر پلان لاندې وي د هغوی دینداري او اړتیاوي دواړه ترکتنې لاندې ټول کېږي او په دې هکله د هر چا لپاره جلا جلا طریقه په کار اچول کېږي کوم کسان چې دهیڅ دین او مذهب پیروي نه کوي هغوی پهٔ اسانه توګه دمادي شیانو په وسیله عیسایيت قبلوي د مسلمانانو دبې لارې کولو لپاره تنصیري اومسیحي ټولني دوه لارې غوره کوي لومړی داچې مسلمان مستیقماً عیسوي او مسیحي کړي او دویم دا چې مسلمان له خپل دین څخه لرې اوجلا کړي عیسوي کیدل پرله پسې ترغیب او تشویق ته اړتیا لري او هغوی دهمدې طریقې څخه کار اخلي او په وړاندې ځي.

پوښتنه: کله چې تاسې مسیحي وی او لامسلمان شوی نه وي نو مسلمانان مو څرنګه له خپل دین څخه اړول؟

ځواب: که هغه سړی به دینداره مسلمان وو نو موږ به دنفسي خواهشاتو او غوښتنو له لارې لکه زده کړه مقام اومنصب ښځې اوشهرت څخه کار اخیستنه ترڅو هغه ددې لارو له دین څخه وګرځوو لومړی به یو تنصیري (کوم عیسایان چې خلک عیسایت ته رابلي) د مسلمان سره دوستي او ملګرتیا واچوله او د هغه ستونزي اومشکلات به یې لرې کول او د هغه سره به یې مرسته کوله ترڅو دخپل احسان لاندې یې راولي اوځان ورته رښتینی دوست او ملګری و ښايي ددې دوستۍ څخه وروسته به یې هغه عیسایت ته رابللو او له خپل دین څخه به یې بې لارې کاوه.

پوښتنه: کله به چې تاسو په یو هیوادکې له ناکامۍ سره مخامخ شوی

اوپلان به مو بریالی نشو نوځه کار به موکاوه؟

ځواب کله چې به موږ په یوه لاره ناکام شو نورې ډېرې لارې وې چې هغه مو په کار اچولې یوه لاره داوه چې دعیسایي قوي کومک کوونکو هیوادونو له لارې به مو په دې نه منونکو هیوادونو زور اوفشار اچولو یابه مو دغریبو او بې وزلو خلکو له کومک او مرستې لاس اخستو اوپه اسلامي هیوادونو کې حکومتونه پرته دلویدیځو مرستو او کومکونو څخه ژوند نشي تیرولای که په دې به هم ونشول نو په همدې هیوادونو کې به مو فتنه ، اختلاف او تخریب کاري جوړوله ترڅو هغوی دې ته اړشي چې زموږ د پلان سره سم کار وکړي

پوښتنه که موږ ته کلیسا داموالو اوعایداتو په هکله لږ معلومات راکړې ؟

ځواب په اروپايي ټولنو کې دهر چا دعاید پنځه فیصده دکلیسا لپاره جلا کیږي ددې څخه پرته ټولې لویدیځې استعماري ټولنې او موسسې چې په اسلامي او افریقايي هیوادونو کې کار او فعالیت کوي دکلیسا پورې تړلې ټولنې اوموسسې دي یعنې د هغوی ټول کارونه دکلیسا لپاره سرته رسول کیږي چې بیا کلیسا په خپل وار هغوی سره همکاري او مرسته کوي د مثال په توګه د مصر کلیسا دسوډان د لس زره (۱۰۰۰) محصلینو سرپرستي په غاړه لري د هغوی دښوونې او روزنې ټول خرڅ په غاړه اخلي ترڅو په راتلونکي کې د هغوی څخه تنصیري کسان جوړکړي

پوښتنه ځرنګه چې تاسو دکلیسا په اړوند لومړۍ څوکۍ لرې د کلیسا تر پردې لاندې مو ژوند ډول او طریقه څنګه وه؟

ځواب: لویدیځو ټولنو اوموسسو په موږ باندې بې حسابه او بې شمېره مال او دولت لګاوه او هر څه ته به چې موږ اړتیا درلوه هغه به یې راته برابرول د لوکسو او با ارزښته موټرو لوکسو کورونو او نړیوالو سفرونو په وخت کې به مو په پوره توګه له دې بې حسابه مال او دولت څخه ګټه پورته کوله او په ډېر عیش او عشرت کې مو ژوند کولو خو ددې هر څه باوجود راته روحي اومعنوي ارام اوسکون حاصل نه وو تل مو به مې فکر کاوه چې هغه څه چې زه یې سرته رسوم هغه زما له فطرت سره سمون نه خوري او همدې موضوع زه تل له فکر او تشویش کې اچولی ووم.

پوښتنه: دا غوره او لوړ پوړه ژوند مو څنګه پرېښوده ،داسلام منلو ته څرنګه چمتو شوي او په اسلام باندې څرنګه قانع شوي ؟

ځواب: الحمدلله ټول شیان مې کلیسا ته پرېښودل او دا مې حس کړه چې نوی پیداشوی یم روحي او معنوي ډاډ او ارامي مې وروسته د اسلام له راوړلو څخه چې په ۲۰۰۲ میلادي کال کې و شوه لاس ته راوړلو سره له دې چې اوس دستونزو سره مخامخ یم خو ډاډه یم اسلام ته زما دمخ اړولو کیسه هغه وخت پیل شوه چې کله ما په لندن کې ماسټرۍ تحقیقې رساله لیکله کوم چې د نړۍ د ادیانو دمقایسي او پرتله کولو په هکله وه ماته ددې پلټنې اوتحقیق په دوران کې لاندې شیان څرګندشول ،قران کریم کوم لیکونکې په نامه یادیږي ،قران کریم کوم مولف اولیکونکی نه لري حال دا چې انجیل دیو لیکونکې په نامه یادیږي ،قران کریم دالله جل جلاله کتاب دی په هغې کې دټولو پیغمبرانو سیرت او په ځانګړې توګه د وروستنې پیغمبر محمد

صلی الله علیه وسلم سیرت موجود دی د محمد صلی الله علیه وسلم سیرت په دې خبره تاکید کوي چې د اسلام دین دانسانانو لپاره وروستی دین او قران مجید وروستی الهي کتاب دي ټولو انبیاوو انسانان د الله جل جلاله یو والي او وحدانیت ته رابلل لکه څنګه چې اسلام ټول انسانان توحید او یووالي ته رابللي مخکې پیغمبران دیو لنډ پروګرام سره یوائې خپل قوم ته رالیږل کېدل او یوائې دخپل قوم لارښوونه به یې په غاړه درلوده حال داچې دمحمدصلی الله علیه وسلم رسالت دټول انسانیت لپاره دی په پخوانیو دینې کتابونو کې الهي کلام ،دپیغمبر دکلام او دمولف د کلام ترمنځ توپیر نشته او په هر کتاب کې داویل شوي چې یو حنا داسې ویلي دي او ټول شیان په کې ګډوډ دي حال داچې قران کریم د الله جل جلاله کلام دی په هغې کې هرڅه څرګند دي سیرت او نبوي احادیث جلا او دعلماوو خبري جلا دي او هرې یوې ته جلا جلا اشاره شوي ده او همدا ددې دلیل دی چې ددې حفاظت اوساتنې ضمانت الله جل جلاله کړی دی عدالت او مساوات د مسلمانانو ترمنځ یو څرګند حقیقت دی او په اسلام کې د هغې تصور واضح او معلوم دی حال داچې په عیسایت کې ډېر داسې شیان شته چې زه پرې قانع نه ووم بلکې ما به پرې خجالت ویسته زماتور پوستکې ماته خجالت ښکاریده او ځان به راته په مسیحیت کې سپک معلومېده په مسیحیت کې انسانان سره جلا جلا درجې لري تور پوستي جلا عبادت کوي او سپین پوستي جلا په امریکا کې تور پوستي مسیحیان نشي کولای چې د سپین پوستو په کلیسا کې عبادت وکړي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول سره د خپل

منصب ددې حق نه درلوده چې دسپین پوستو کلیسا ته ننوځي او هلته خلکو ته وینا وکړي حال داچې په اسلام کې داسې هیڅ توپیر او تفاوت نشته هرڅوک چې مخکې جماعت ته ننوځي هماغه په لومړي صف کې داسې لمونځ ادا کوي ټول لمونځ کونکي د الله جل جلاله په وړاندې یو شان ودریږي د جماعت امام کېدای شي سپین یا تور پوستی وي.

**پوښتنه**: کله چې کلیسا ستاسې په اسلام راوړلو باندې خبره شوه نو څه عکس العمل یې وښوده؟

**ځواب**: زما په اسلام کلیسا او ټول واکداران یې ډېر خفه شول او ډېر کوښښونه یې وکړل چې ما له خپل دین څخه مرتد او بېرته وګرځوي په همدې خاطر دسوډان دبهر او داخل دواړو څخه راته ډېر هیئتونه راغلل پرما یې ډېر زور او فشار راوړو او زه یې له ستونزو سره مخ کړم خو په دې بریالي نه شول چې ما له اسلام څخه واړوي څرنګه چې ما اسلام دخپل تحقیق او قناعت په نتیجه کې منلی وو نو د هغوی فشار په دې بریالي نه شو چې ماله اسلام څخه وګرځوي او زما باور نور هم په اسلام باندې زیات شو او هغوی نامراده شول کله چې کلیسا له دې لارې ونشو کولای چې ما له اسلام څخه وګرځوي نو په مرګ او وژلو یې ډاره ولم څو کسان یې زما د وژلو اوترور لپاره وګمارل خو بریالي نه شول په همدې خاطر زه اوس لوېدیځو هیوادونو ته سفر نه کوم چې له ترور سره مخامخ نه شم زما دقوم خلک له څخه ساتنه او د فاع کوي یو ځل پرما د تروریستي برید و شو خو زما قوم له څخه دفاع وکړه او زه خوندي پاتې شوم د اسلام راوړلو څخه وروسته زه دا احساس کوم

چې زه د الله جل جلاله تر ساتنې او حمایت لاندې یم ددې ترڅنګ زه دیو مسلمان په حیث په دې عقیده یم چې مرګ حق دی او د هغې څخه ویره او ډار نه لرم څوک چې داسلام په دفاع کې مړ شي هغه شهید دی او د هغه بدله د الله جل جلاله سره ده حال داچې یهودیان اوعیسایان دمرګ سره نه بلکې دژوند سره عشق او مینه لري.

پوښتنه: کله چې تاسو اسلام راوړو نو بیا مو دخپل راتلونکې لپاره څه پلان او پروګرام جوړ کړو؟

ځواب: دځینو کتابونو په لیکلو مې پیل وکړ یوکتاب مې ولیکه «ولې ما اسلام راوړو ؟» بل کتاب مې په اسلام کې دعفوې او بخښنې په هکله ولیکلو اودریم کتاب مې په مسیحیت کې دبدعاتو او خرافاتو په هکله لیکلی دی ماخپل ځان اوس ددې لپاره وزګار کړی دی چې نور خلک داسلام حقاني دین ته راوبلم همدرانګه دخپلې اداري او ټولنې له لارې دسوډان دپرمختیا او جوړولو لپاره کار کوم.

پوښتنه: ستاسو په لیکلي کتاب «ماولې اسلام راړو» کې کوم بحثونه مهم دي؟

ځواب: په دې کتاب کې ما داسلام او نورو ادیانو په منځ کې مقایسه کړې همدارنګه مې پرتله کړی دی په اسلام کې مې دثابتو او محکمو شیانو څخه بحث کړي دي په رښتیا چې په نورو مذهبونو کې دتضاد او اختلاف شیان راڅرګند اوبه ګوته کړي دي په رښتیا چې په اسلام کې دمیراث قانون زه ډېر په تعجب کې اچولی یم یه یهودیت کې هم دمیراث قانون شته خو ناقص اوبې انصافه دی په عیسایت کې خو دمیراث قانون نشته حال داچې اسلام دمیراث مسئله په یوه عادلانه

طریقه سره وړاندې کړي او دهر چا حق یې ثابت کړی
دنیکانو قوم چې زما قوم دی هغوی دمیراث قانون عملې کړی سره له دې چې مسیحیان دي هغوی دخپلو جنجالونو او اختلافاتو دحل کولو لپاره اوس لاره پیداکړي همدارنګه ما داسلام د بشپړوالي او شمولیت په هکله معلومات وړاندې کړل ماداثابته کړي څرنګه یوسړی چې کله اسلام راوړي په هغې کې لوی بدلون منځ ته راځي په نورو ادیانو کې ددین او دخلکو دکلتور ترمنځ اختلاف او تضاد وجود لري هغه ادیان دخلکو په کلتور او فرهنګ کې بدلون نه راولي ځکه نو خلک یې چې څه زړه غواړي هغه سرته رسوي او ددین هیڅ پروا نه لري په هغوی کې د خپل دین یوائې نوم موجود وي نور هیڅ اثر په کې نه وي
پوښتنه: ستاسې دپیروانو څخه څومره کسانو ایمان راوړو اوپه اسلام کې ذر سره شریک شول ؟
ځواب: د الله جل جلاله په فضل او رحم سره تر اوسه پورې یو لک او پنځوس خلک زما په لاس مسلمانان شوي دي همدارنګه دوه نیم زره ۲۵۰۰ دکلیسا مشرانو ،راهبانو اومذهبي مشرانو هم اسلام قبول کړی دی کوم چې سوډان دنوبت او انجسنا دسیمو اوسیدونکې دي
پوښتنه: تاسو څنګه په دې بریالي شوئ چې دومره زیاتو خلکو ته قناعت ورکړی چې اسلام قبول کړي ؟
ځواب: کوم کسان چې اسلام یې نه وي راوړی هغوی ته قناعت ورکول ډېر اسانه دي ځکه چې دهغوی فکر او ذهن خالي وي ماهغوی ته داثابته کړه چې اسلام یو حقیقي او رښتینی دین دی چې هیڅ شک او

تردید په کې نشته دا دین د الله جل جلاله په وړاندې غوره او منل شوی دین دی.

{إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الإِسْلاَمُ} دا دین ټول انسانیت ته بلنه ورکوي دا داسې دین دی چې دژوند په ټولو اړخونو کې لارښوونې لري او دژوند ستونزې حلوي ما ځینو هغو کسانو ته چې په عیسی ایمان لري او هغه خوښوي دا پیغام ولیږه اوهغه مې په لاندینې څو خبرو باندې قانع کړل ۱- لومړی داچې الله جل جلاله یو دی او شریک نه لري او د مسیحانو دعقیدې له مخې یو له دریو څخه نه دی ۲- دویم دا چې عیسی علیه السلام انسان او دالله جل جلاله استازی اوپیغمبر دی او الله جل جلاله هغه د خپل قوم د هدایت او لارښوونې لپاره رالیږلی وو هغه نه د عبادت وړ او نه دالله جل جلاله زوی دی ۳- عیسی علیه السلام دخپل قوم نبي د اسرائیلو لپاره پیغمبر او استازی وو نو دعوت یې د عامو خلکو لپاره نه بلکې دخپل قوم لپاره وو عیسی علیه السلام دالله جل جلاله زوی نه دی چې دخلکو د ګناهونو د لرې کولو لپاره یې دنیا ته رالیږلی وي او بیا یې اسمان ته پور ته کړی وي ترڅو له دې سره په خوا کې کښېني (لکه مسیحیان همداسې عقیده لري)

پوښتنه په لومړني وخت کې دمسلمانانو داحالت وي چې له دین څخه ګرځي ایا تاسو د اسلام په راوړلو پښیمانه نه کړئ ؟

ځواب کله چې ما اسلام راوړی دی ډېر حیران شوم چې مسلمانان ولې خپل دین نه عملي کوي اصلاً الله جل جلاله دانسانانو دلارښوونې لپاره دوه شیان ټاکلي دي یو قران مجید اوبل درسول الله

صلی الله علیه وسلم مبارک سنت خو افسوس چې مسلمانان په هغې عمل نه کوي هغه دخپل ژوند په چارو کې نه حاکموي همدارنګه په اسلامي او عربي هيوادونو کې واکداران داسلامي قانون پابند نه دي نو د مسلمانانو د بې عملی يو دليل دادی چې هغوی له دين څخه لرې دي او ايمان يې کمزوری دی که مسلمانان په خپل دين باندې کلکې منګولي ولګوي نو د هغوی شان او دبدبه به قوي او غښتلي شي

پوښتنه ايا د يهودي اومسيحی ټولنو او موسسو داړيکو په هکله څه معلومات لرئ ؟

ځواب ماخپله ځوځلې له اسرائيلو څخه ليدنه کتنه کړي چې دا ليدنې کتنې به عموماً دهغه دوستانه اړيکو پورې اړوند وي چې مسيحې نړه يې د اسرائيلو څخه ددفاع په خاطر کوي ان تر دې چې زه ديهوديانو ژبه عبراني په اسانه سره ويلی شم زما له نظره يهودي او مسيحي ادارې او ټولني سره هيڅ تفاوت او توپير نه لري د دواړو موخې او هدفونه سره يودي او د دواړو مقصد دادی چې اسلامي فلسطيني دولت جوړ نه شي چې په راتلونکې کې به بيا د اسرائيلو لپاره د خطر سبب وګرځي په اولنې وخت کې د لويديځ يرغل په اسلامي امت باندې دهمدې لپاره وه چې اسرائيلو ته ګټه ورسوي اودهغوی مرسته او کومک تر سره شي په همدې خاطر کوم هيوادونه چې اسلام ته ډېر نږدې دي لکه افغانستان ،ايران او سوډان د لويديځ يرغل لومړی هدف دي که دا هيوادونه دلويديځ غلامي او تابع کيدل ونه مني نو د يرغل سره به مخامخ شي نن ورځ چې امريکا دمصر سره څومره زياتې مرستي کوي دبل هيچا سره يې هم نه کوي

ددې موخه او هدف څه شی دی؟ دا مرستې ځکه ورکول کېږي چې مصر د اسرائيلو څخه طرفداري کوي او هم ستر اتيژيک موقعيت لري زما ښه په ياد دي چې کله امريکا له مصر څخه وغوښتل چې د اسرائيلو سفارت ته ځای ور کړي سره له دې چې دمصر ټول ملت مخالفت وکړه خو بيا هم د اسرائيلو سفارت په مصر کې پرانستل شو دا هم په څرګندډول ويلای شم چې نن ورځ اسرائيل لوديځه نړۍ او کليسا ټول د اسلام خلاف سره يو ځای شوي او هر يو د منظم پلان لاندې خپل کارونه پرمخ بيايې کليسا پلان جوړوي لوديځي ټولنې او موسسې هغه پلانونه پلي اوعملي کوي کله چې په کوم پلان کې ناکام شي نو بيا لويديځ هيوادونو ته مخ اړوي تر څو هغوی له خپل ځواک او رول څخه کار اخلي او پر اسلامي هيوادونو سياسي او اقتصادي فشار زيات کړي دا ټول کارونه دکليسا دپلان او پروګرام سره سم سرته رسيږي.

پوښتنه: غواړم چې تاسې په هغه کارونو رڼا واچوئ کوم چې کليسايې د اسلام او مسلمانانو په خلاف سرته رسوي او تاسو په هغه کې برخه اخستي وي؟

ځواب: ۱۹۸۱ ميلادي کال د امريکا د ټيکساس په ايالت کې يو پټ سيمنار جوړ شو چې زه دهغې فعال غړی وم ددې سيمنار شعار داوو چې د اسلام دپرمختيا سره څنګه مقابله وکړو؟

په دې سيمنار کې اسلامي هيوادونه په فعال او ډېر فعال باندې وويشل شول چې په پرمخ تللي اسلامي هيوادونو کې مصر،عراق او پاکستان شامل وو او په اسلام باندې مئينو هيوادونو کې

ایران،افغانستان تاجکستان،چیچنیا، سوډان، چاد اوترکیه وشمېرل شول په دې سیمنار کې ګډون کوونکو هیوادونو ته قناعت ورکړل شو چې په اړونده موضوع باندې پوره پلټنې او تحقیقات وکړي او دي مهمي پوښتني ته ځواب پیدا کړي چې څرنګه کولاي شو په دې هیوادونو کې ځان ننباسو او هغوی مسیحیت ته راوبلو که دا کار نه شي کېدای نو باید دخلکو ترمنځ اختلافات ،فساداو شخړي را پیداکړو او همدارنګه کار یې په افغاسنتان کې سرته ورساوه یو موټی هیوادو یې په ډلو ټپلو وویشلو او بیا یې ددې ډلو ترمنځ جګړې هم پیل کړي د هرې ډلې لپاره یې خپل کومکونه له جلا جلا لارو څخه ورسول همدا کاریې د ایران په هکله هم پیل کړو هغو یې د قومې او قبیلوې تعصباتو په نوم خلک سره جلا کړل او شیعه او سني ترمنځ یې داسې اختلاف منځ ته راوړ چې بیا سره یو ځای نه شي نن چې موږ او تاسو دایران او خلیجي هیوادونو ترمنځ کوم اختلاف او دښمني ګورو هغه دهمدې کلیسایې فعالیت نتیجه ده کله چې کلیسا سوډان ته راغله نو په جنوب کې د اسلام دین غالب او قوي وموندهاو دا یې ولیدل چې سوډان د ډېرو اسلامي هیوادونو سره ګاونډي دی دهغه وخت انګریزي حاکم سوډان ته امر وکړ چې د خپل کفالت لاندې سیمو ته قانون جوړ کړي کوم چې دشمال او جنوب خلک یې یو بل ته نه پرېښودل او په خپلو کې یې تلل راتلل منعه کړل تر دې چې دسوډان په جنوب کې مسیحیت خپور شو او وده یې وکړه او مسلمانان په اقلیت کې راغلل دا قانون د سوډان تر ازادۍ او استقلال پورې نافذ وو تر هغې چې په کال ۱۹۵۶ کې سوډان خپله

ازادي واخیسته په لومړي وخت کې کلیسا دسوډان د اسلامي حرکت پر خلاف پلانونه جوړکړل ځکه هغوی په دې باور و چې همدا حرکت په سوډان کې مسیحیت مخه نیسي.

پوښتنه په ۱۹۸۱ میلادي کال چې کوم سیمنار و شو او تاسو دهغه فعال غړی وئ د پرمختللي اسلامي هیوادونو په خلاف څه ډول پلانونه او پروګرامونه جوړ شول؟

ځواب په دې هیوادونو کې مصر،عراق او پاکستان شامل وو لودیځ دا هیوادونه دکلیسا دفشار په اساس دخپلې میکر سکوپ مطالعې لاندې ونیول تر څو دا هیوادونه تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي د دې لپاره یې دوه لارې غوره کړي یوه دا چې په داخل کې اختلاف منځ ته راوړي او هم د ګاونډي هیوادونو سره د دوی اړیکي خرابي کړي ترڅو وکولای شي خپل پلان پرې عملي کړي او دا پلان دا وو چې دا هیوادونه دکمزوري او وروسته پاتي والي سره مخامخ کړي اوهم یې د اسرائیلې حکومت پلوي وګرځوي دمثال په توګه دعراق دپخوانې نیواک ګر حکومت انګلستان صدام حسین دڅو نقشو په خودلو دې ته وهڅولو چې کویت ستاسو دهیواد برخه ده او صدام حسین همدا کار وکړ څو دکویټ دنیولو څخه سمدستې وروسته امریکا ډیر پلانونه جوړ کړل او کوم کارونه چې یې غوښتل هغه یې سرته ورسول او لا اوس هم روان دي.

پوښتنه په دې سیمنار کې فیصله و شوه چې علماني یا سکولر کسان په ادراو کې را وړاندې کړل شي تر څو اسلامي حرکتونو ته سخت ټکان او زیان ور سوي او دا کارېې دعلماني او سیکولرې

ټولنو،ادارو او ډلو کومک او مرستي له لاري سرته رسول غوښتل په یو عربي هیواد باندي فشار راوړي تر څو د اسلامي حرکت غړي بندي او زنداني کړي او د وهلو ټکولو په نتیجه کې هغوی له منځه یوسي زما وظیفه په دي پلان کې داوه چې یو ملیون او اته لکه ډالر هالینډ د امستردم له کلیسا څخه هماغه عربي هیواد ته ورسوم ددې ډالرو چې موږ د هماغه عربي هیواد کلیسا ته رسولي وو هدف داوه چې کلیسا دخپلو غړو په وسیله دبي دینه علماني مرتدانو ډله په دې وګماري چې په مصر کې اخوان المسلمین حرکت له خپو وغورځوي چې دا پلان د۱۹۹۶، ۱۹۹۸میلادي کلونو په منځ کې پلی او پیاده شو ددې فعالیتونو راپور موږ ته وخت په وخت رارسېدله حال دا چې په دې پلان کې چې کوم کسانو کار کاوه یو بل یې نه پیژندل او دیو بل څخه ناخبره وو.

پوښتنه: د۱۹۸۱میلادي کال په سیمنار کې چې کوم لوري او هیوادونه شامل وو هغه کوم وو؟

ځواب: د اسلامي او عربي هیوادون کلیساګانو او دلویدیځو هیوادونو کلیساوې په دې سیمنار کې شاملي وي ددې سیمنار اصلي خبره داوه چې څرنګه کلیسا په دې هیوادونو باندې واکمنه شي که دا کار دانساني کومکونو او همکارۍ له لاري کیدای شي او که دزور او فشار په وسیله یا د نورو لارو چارو څخه چې مخکې ورته اشاره و شوه

پوښتنه: ایا تاسو فکر نه کوئ چې دداسې رازونو برینډول به تاسو ته خطر ناک تمام شي او تاسو به له خطر سره مخ شئ؟

ځواب: زه په دې ښه پو هيږم خو غواړم دکليسا د ديوالونو تر شاه چې کوم پلانونه جوړيږي هغه ښکاره او رسواکړم دا کار وروسته له هغې کوم چې د اسلام په حقانيت باندې پوهه شوم زه هغه څوک نه يم چې له مرګ څخه ووېريږم په ځانګړي توګه کوم مرګ چې اسلام څخه ددفاع په لاره کې وي.

پوښتنه: په کوم عربي او اسلامي هيوادونو کې تنصيري او مسيحي حرکتونه وجود لري؟

ځواب: زيات اسلامي او عربي هيوادونه تنصيري حرکتونه لري او د هر هيواد لپاره جلا جلا پلانونه جوړشوي لويديځ هيوادونه کولاي شي دخپل پلان سره سم چې څومره کليساوي غواړي هغه جوړي کړي په دې هکله لويديځ د مختلفو لارو چارو څخه کار اخلي.

پوښتنه: لکه څرنګه چې څرګنده ده د تروريزم دمقابلې تر عنوان لاندې اسلامي خيريه کارونه او فعاليتونه له منځه وړل کيږي تاسو ددې منظم پلان په هکله څومره معلومات لرئ؟

ځواب: د اسلامي خيريه ټولنو کارونه او فعاليت دتنصيري ټولنو کار په ټپه ودراوه په همدې خاطر ددې کار دمخنيوي لپاره هغوی مختلفي لارې چارې ولټولي چې کېدای شي د نمونې په توګه لاندې کارونو ته اشاره وکړو د اسلامي او عربي هيوادونو واکدارانو ته دا په ګوته کول چې د مسلمانانو خيريه ټولني او اداري بندي کړي د اسلامي حرکتونو فعاليتونه بندول او منعه کول او تنصيري حرکتونو ته لاره خلاصول تر څو د دې لارې وکولاي شي چې د مقابلې څخه پرته خلک مسيحيت ته راوبلي لويديځو خيريه ادارو او ټولنو ته وده

او پرمختیا ورکول کوم چې دانساني مرستي ترعنوان لاندې کارکوي ترڅو د دې لارې وکولای شي استخباراتي معلومات راټول کړي کله چې کلیسا په خپل شوم پلان کې ناکامه شي نو بیا خپلو لاس پوڅو کسانو ته دنده ورکوي تر څو د خلکو په منځ کې فتنه، فساد او اختلاف را منځ کړي امن، ډاډ او اطمنان له منځه یوسي او په خړو اوبو کې ماهیان ونیسي.

پوښتنه: ستاسې له نظره ولي لویدیځ دومره پراخه او لوی یرغل د اسلامي خیریه ادارو او مؤسسو پرخلاف پیل کړی دی او دا پلان څه وخت جوړ او پلی شوی؟

ځواب: څرنګه چې په اروپا او امریکا کې اسلام په ډېره چټکتیا سره خپریده نو کلیسا ددې چټک پرمختګ دمخنیوي لپاره د اسلامي خیریه ټولنو او ادارو کار او فعالیت بندکړه ترڅو د اسلام مخه ونیسي دا پلان د شل کلونو څخه مخکې جوړ شوی وو اوس ددې پلان وروستۍ ورځې دي او موږ ددې خبرې شاهد یو چې ټولي اسلامي خیریه اداري بندي شوي او له کاره لویدلي دي ځکه دې اسلامي خیریه ادارو د اسلام په خپرولو د بي وزلو او غریبو خلکو دا ړتیا په لرې کولو او د تنصیري فعالیتونو په مخنیوي کې مهم رول درلوده په داسې حال کې چې تنصیري اداري په ځینو ځینو برخو کې کار کاوه اوس چې د امریکا توره د اسلامي او عربي هیوادونو په واکدارانو حاکمه ده نو هغوی په زور سره د اسلامي خیریه ټولنو فعالیت بندوي د خلکو مرستي او کومکونه کنګلوي ترڅو اسلامي خیریه موسسئي ونه شي کړای خپل دعوتي کارونه سرته ورسوي.

پوښتنه د خپلي عقيدي بدلول هغه کسانو ته چې په لوړو منصوبو کار کړی دی ډېر ګران کار دی تاسو ويلای شئ چې کوم شي دې ته اړ ايستئ چې خپله پخوانۍ عقيده پرېږيدي او اسلام ومنې په داسې حال کې چې تاسو تل د انجيل په مطالعه بوخت وئ؟
دا ډېره مهمه پوښتنه ده خو هر څومره چې انسان په لوړ مقام کې واقع وي او د حق لارې د لټولو پسې هلې ځلې وکړي خامخا هغه ته لاره روښانه کېږي او حقيقت په لاس ورځي ددې پوښتني په ځواب کې چې ولې ما خپله عقيده بدله کړه هغه دلايل درته وړاندې کوم کوم چې د عيسى عليه السلام څخه په انجيلونو کې را نقل شوي دي چې په لاندې ډول دي د يوحنا په انجيل اتم باب او څلورم جمله کې داسې راغلي دي چې کله يهودو د مسيح عليه السلام د وژلو فيصله وکړه نومسيح عليه السلام هغوی ته داسې وفرمايل اوس تاسو غواړئ ما ووژنئ حال دا چې زه داسې انسان يم چې ستاسې سره د داسې يو حق په هکله خبره کوم چې ماله خپل خدايى څخه او ريدلي دي که چيرې الله جل جلاله ستاسو پلار وای نو تاسو به زما سره دوستي کوله ځکه چې زه د الله جل جلاله له لوري راليږلی شوی يم زه خپله نه يم راغلی بلکې زه الله جل جلاله راليږلی يم نو بيا ولې زما خبره نه اورئ؟ ځينې انجيلونه په څرګنده توګه د عيسى عليه السلام د نبوت په هکله بيان ورکوي لکه څنګه چې د لوقا انجيل په اووم باب شپاړسمه جمله کې راغلي دي ټول ويري او ډار راونغاړل او ويې ويل رښتيا چې زموږ له ډلي څخه يو لويی نبي ګمارل شوی دی همدارنګه د متی په انجيل يوويشتم باب ۹-۱۰او ۱۱جملو کې داسې راغلي دي کله چې هغه

یروشلم ته ننوت ټول ښار ټکان وخوړلو خلکو وویل دا څوک دی یوې ډلې وویل دا د الله جل جلاله نبي دی چې د ناصري د غره څخه دی دا ټول اسناد موږ دا څرګندوي چې په قران کې دعیسی علیه السلام په هکله څه ویل شوي دي هغه سم او صحیح دي لکه چې فرمایي:

مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ

ژباړه: مسیح علیه السلام بن مریم له یو پیغمبر نه پرته نورڅه نه ؤ له هغه نه مخکې هم نور زیات پیغمبران تیر شوي وو،

پوښتنه: د دې څخه موږ داسې نتیجه اخلو چې ستاسو دعقیدې په بدلون کې د انجیل نصوصو او ایاتونو مهم رول درلوده؟

ځواب: د عیسی علیه السلام په رسالت او نبوت باندې په ایمان راوړلو کې ټول هغه شیان شامل دي کوم چې هغه موږ ته را رسولي دي او موږ هغه نه اورو د هغه وینا دروغ نه ګڼو د هغه سره مخالفت نه کوو عیسی علیه السلام زموږ لپاره دوه شیان راوړي دي هغه امت چې عیسی علیه السلام د هغه د رهنمایۍ او لارښوونې لپاره ټاکل شوی او رالیږلی شو دی هغوی باید په دې پوهه شي چې څرنګه د الله جل جلاله عبادت وکړي او هغه ته ځان نږدې کړي د الله جل جلاله د پیژندلو او معرفت په هکله عیسی علیه السلام فرمایي: الله جل جلاله یو دی بې ساري دی هیڅ مثل او انډول نه لري د مرقس په انجیل ۲۲ باب او ۳۰ جمله کې داسې راغلي دي

چې کله د هغه څخه کاتبانو پوښتنه وکړه چې ایا دا وصیت دی؟ نو عیسی علیه السلام ورته وفرمایل ترټولو لومړی وصیت دا دی واورئ

ای اسرایلو! زموږ پروردګار او الله جل جلاله یو دی او باید خالق پیدا کوونکي او رب لومړنی وصیت او لاربښوونه ده دویم وصیت دا دی چې خپل نږدې خلک او ملګري باید خپل ځان په شان دوست وګڼي ددې دواړو وصیتونو څخه لوی وصیت بل نشته بیانو کاتبانو ورته وویل سمه ده اې لار ښونکیه! ربښتیا او حق خبره دې وکړه حقیقت دا دی چې الله جل جلاله یو دی او هیڅوک پرته له هغه څخه خدای نه دی همدارنګه د متی په انجیل کې ۲۳باب اتمه جمله کې راغلي دي چې د پیدا کوونکي په حقیقت باندې تاکید کوي عیسی علیه السلام فرمایي: تاسو باید بل پلار (پرودګار) پرته د الله څخه په ځمکه کې راونه بولئ ځکه چې ستاسې پلار (رب) واحد او لاشریک ذات دی چې په اسمانونو کې دی د یوحنا په انجیل ۲۰باب ۱۸جمله کې عیسی علیه السلام دارنګه فرمایي: زه ستاسې پلار او خپل پلار ستاسې معبود او دخپل معبود په لورې پورته کېږم د انجیل په ژبه کې پلار رب او پیداکوونکي ته وای زه هغه کسانو ته چې عیسی علیه السلام سره مینه لري وایم چې ایا د عیسی علیه السلام دا خبرې او ویناوې د الله جل جلاله مکمل او پوره تعریف نه کوي او د هغه وحدانیت نه څرګندوي لکه چې ددې مثال په قران کریم کې الله جل جلاله داسې وړاندې کړی دی: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ ۙ وَ لَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝

ژباړه: ووایه هغه الله جل جلاله دی، یوازې یو، الله جل جلاله هیچا ته اړنه دی او ټول هغه ته اړدي، نه هغه څوک زیږولی دی او نه هغه زیږول

شوی د، او هېڅوک د هغه سیال نشته

په قران کریم کې همدارنګه راځي ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ﴾ (الانبیا۲۵ایت)

ژباړه: مونږ چې له تانه مخکې هر پیغمبر لیږلی دی هغه ته مونږ همدغه وحی کړېده چې له ما څخه پرته بل خدای نشته نو تاسې همدا زما بندګي وکړئ

دویمه خبره چې عیسی علیه السلام د هغې لپاره رالیږلي شوی وو هغه داوه چې خپل امت د الله جل جلاله عبادت ته متوجي کړي هغه قوم او امت عبارت له بني اسرایلو څخه وو پرته له بني اسرائیلو څخه نور امتونه او قومونه په دې مکلف نه دي چې عیسی علیه السلام پیروي او متابعت وکړي دا داسې حقیقت دی چې انجیلونه په هغه اعتراف کوي لکه چې متي په انجیل ۱۰باب ۵ جمله کې عیسی علیه السلام درانګه فرمایلي دي: زه نه یم رالیږلی شوی مګر دبني اسرایلو دبې لارو او کبر کوونکو خلکو لپاره همدارنګه د متي په انجیل ۱۵ باب ۵ جمله کې داسې راغلي دي دا ۱۲ کسان یسوع علیه السلام رالیږلي او هغوی ته یې داسې وصیت او هدایت کړی دی د نورو امتونو په لارو پسې مه ځئ شامرین ښار ته ورشئ (اعمال الرسول ۱۲باب لومړی جمله) همدارنګه زه د مسیح علیه السلام سره محبت اومینه کوونکو ته وایم: ای د حق پسې لټه کوونکو! ای هغه کسانو چې په یو او لاشریک خدای باندې ایمان ئ دا د زړه له کومې تاسو ته ډالۍ وړاندې کوم په الله جل جلاله باندې ایمان راوړئ چې واحد

لاشریک دی او په دې ایمان راوړي چې عیسی علیه السلام د الله جل جلاله روح او کلمه ده چې بي بي مریم ته یې القاء کړي وه او په دې ایمان راوړی چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله اخري استازی او پیغمبر دی په حق سره د هغه پیروي او متابعت وکړئ که تاسو دا کلمه لااله الاالله وایئ نو هغه به دوه چنده اجر او ثواب درکړي لکه چې الله جل جلاله په قران کریم فرمایلي دی ﴿اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ﴾ (سورت القصص ۵۳ ایت)

ژباړه کومو خلکو ته چې مونږ له دې نه مخکې کتاب ورکړی ؤ هغوی پدې قران باندې ایمان راوړي

او همدارنګه په بل ځای کې داسې فرمایي:

﴿قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ﴾ (القصص ۵٤ ایت)

ژباړه نو هغوی وایې چې مونږ پده باندې ایمان راوړ دا په ربښتیا سره زمونږ درب لخوا حق دی، مونږ خو لا د دې نه مخکې مسلمان یو

پوښتنه که د هغه وخت په هکله مونږ ته لنډ معلومات راکړئ چې تاسې اسلام راوړ او دهغې څخه مو څه لاس ته راوړنې لرلي؟

ځواب کله چې ما وغوښتل اسلام راوړم له هغوی څخه مې رخصت وغوښت ترڅو له خپلې کورنۍ سره رخصتي تیره کړم کلیسا راته وویل تاسې صبر وکړئ ترڅو چې د ۵۰ - ۱۰۰زرو پورې امریکایې ډالر تاسو ته وسپارل شي چې په خپله کورنۍ یې مصرف کړئ ما ورته

وویل: زه ستاسې مال ته اړتیا نه لرم زما سره د کلیسا د عایداتو دوه میلونه او څلور لکه امریکایي ډالر او ۳۲۰ میلیونه سوډاني روپۍ امانت موجود دی هغه مې ټولې د تنصیري کارونو خزانه لرونکي ته وسپارلې چې هغوی په دې ډېر حیران شول بیا مې دوه ورځې په خپله کورنۍ کې تیرې کړې او دهغوی سره مې د اسلام قبلولو موضوع وڅیړله او خپله مې هم پرې غور او فکر وکړه زما کورنۍ زما میرمن او څلور ځامن وو چې هغوی ټول په دې پوهیدل چې زه د اسلام راوړلو په هکله غور او فکر کوم کله چې د اسلام راوړلو د اعلان وخت راغی نو ماته وویل هغوی ټولو دا ځواب راکړ چې ته زموږ څخه ښه پوهیږې او زموږ پر تا باور او اعتماد دی او ستا تصمیم زموږ دټولو شریک دی بیانو نږدې جماعت ته لاړو او خپل اسلام راوړل مو اعلان کړل له ۴۰ کاله باطل پرستۍ څخه وروسته لومړی ځل راته د زړه ارام او ډاډ پیدا شو او کلیسا زه په لیونتوب تورن کړم او دایې وویل چې زه په روحیي ناروغي اخته شوي يم

پوښتنه: کله چې کلیسا په تاسې تور ولګاوه چې تاسې روحیي ناروغي لرئ ایا ورته ثابته مو کړه چې زه د پوره عقل خاوند يم او په خپل واک او اختیار مې د دلایلو په اساس اسلام قبول کړی دی او بیا وروسته څه پیښ شول؟

ځواب: البته دا به الله جل جلاله فضل او رحم وو چې ماته د ادیانو ترمنځ مقایسه او مقارنه غوره کړه دهغې څخه زما مقصد دا وو چې اسماني او غیر اسماني دینونه وپیژنم ترڅو په اسانۍ سره وکولای شم خلک په دلایلو قانع کړم چې مسیحیت او عیسایت ومني خو د الله جل

جلاله غوښتنه او اراده بله وه ما د نړۍ مشهور او لوی دینونه تر مطالعې، څیړنې او تحقیق لاندې ونیول د څیړنې او تحقیق په دوران کې راته لومړی ځل د اسلام په هکله حقیقت څرګند شو چې همدا زما د دینداری سبب وګرځیده فکر او نظر مې بدلون وموندو او زه دخپل تحقیق په نتیجه کې په دې پوهه شوم چې اسلام حقیقي او رښتینی دین دی کله به چې اذان پیل شو نو ما به خپل درس د درناوي په خاطر بند کړ او زه په کې دوه زړې ووم یو لورته په دې قانع وم چې اسلام یو حقیقي او الهي دین دی خو له بل لارې د کلیسا په کارونو کې بوخت وم او د هغوی له بې شمیره مالونو څخه مې ګټه پورته کوله کله چې د اسلام سره زما په زړه پورې والی زیات شو نو د کلیسا کار کارکوونکي راهبان او کشیشان راټول شول خپل فشار او زور کې ناکام شول نو د کلیسا د شوری څخه یې زما د لرې کولو فیصله وکړه او دا اعلان یې وکړ چې زه لیونی شوی یم نو ځکه د خپل وظیفې څخه لرې کړای شوم ما هغوی ته وویل زه لیونی شوی نه یم بلکې د خپل رب ستاسې د رب عیسی علیه السلام او د محمد صلی الله علیه وسلم د رب او الله جل جلاله څخه ویریږم زه د الله جل جلاله له عذاب څخه ویریږم بیا ډاکټرانو معاینې وکړې او دا یې ثابته کړه چې زه لیونی نه یم بلکې د اسلام حقیقت مې درک کړی دی.

پوښتنه: ښاغلی اشوک ټول هغه کسان چې نوی اسلام راوړي نو خپل نوم بدلوي نو تاسې ولې خپل نوم بدل نه کړ او نوی نوم مو د ځان لپاره غوره نه کړ؟

ځواب: نوم مې د دوو وجوهاتو په اساس بدل نه کړ لومړی دا چې د

اسلام دین په دې هکله کوم مشکل نه لري همدا خبره زما لپاره ډېره مهمه وه دا هیڅ باک نه لري چې څوک اسلام قبول کړي خو بیا هم خپل نوم یې پاتې وي ځکه اسلام، ایمان او عمل ته اهمیت ورکوي نه نومونو ته دویم دا چې په دې ډول وکولای شم نو خلک دین ته دعوت کړم او هغوی زما له نوم سره اشنا دي او دا کار مې یوازې د دعوت په خاطر کړی دی ترڅو په دې ډول وکړای شم خلک له دوزخ څخه د جنت په لورې راوبلم ځکه ماته اوس حقیقت څرګند شوی او دا رښا باید نورو ته هم ورسوم.

پوښتنه: تاسو په کلیساکې د مسیحیت لوړ مقام کار دینالی ته رسیدلي وی او ستاسې پلار هم همدا درجه لرله تاسې موږ ته ددې درجې په هکله معلومات راکړئ په کلیسا کې کار دینال کومې کومې وظیفي او دندې سرته رسوي؟

ځواب: ما په کلیسا کې لوړې درجې لاس ته راوړي وي چې یوه په کې کار دینال دنده هم وه زما پلار هم کار دینال درجې ته رسیدلی وو په کلیسا کې دکا ر دینالیۍ درجه داسې ده لکه چې په اسلام کې د مفتي درجه او مقام وي په کاتولیک مذهب کې لوی راهب چې خلک ورته قس یا کشش وایي د خلکو ګناهونه بخښلی شي حال دا چې په دې پوهیږي چې هغه نه معبود دی او نه د دې صلاحیت او اختیار لري چې د خلکو ګناهونه معاف کړي د حیرانتیا خبره ده چې د هرې یکشنبي په ورځ کلیسا ته راځي او د مذهبي مشرانو په وړاندې د ګناه اعتراف کوي او وایي چې په فلاني وخت کې راڅخه ګناه شوي ده په ځواب کې ورته قس یا کشش وایې چې ځه معاف یې زه نه پوهیږم

چې قس دا رانګه زړورتیا څرنګه کوي چې د الله جل جلاله واک او اختیار په خپل لاس کې اخلي ایا هغوی ته دا حق او صلاحیت چا ورکړی حال دا چې هغوی هم د نورو په شان انسانان دی هر څوک چې د کلیسا کشیشان وي که ختیځی وي که لویدیځی هغوی ټولو ته زه چیلنج ورکوم او ورته وایم چې تاسو په کومه درجه کې وی راشئ را سره مناظره وکړئ تر څو تاسې ته د اسلام حقانیت څرګند کړم زه هسې په احساساتو او بې عقلۍ باندې اسلام ته نه یم راغلی بلکې ما د پوره مطالعې او تحقیق څخه وروسته اسلام قبول کړی او په دې پوره پوه شوی یم چې اسلام د نړۍ وروستی اسماني دین او پیغام دی چې په هغې سره د الله جل جلاله پیغام بشپړ او مکمل شوی دی محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله وروستی استازی او پیغمبر دی او عیسی علیه السلام هم انسان او د الله جل جلاله له لورې استازی او پیغمبر دی پرته له دې څخه بل څه نه دی لکه چې قران کریم په دې هکله فرمایي:

مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ

ژباړه: مسیح علیه السلام بن مریم له یو پیغمبر نه پرته نور څه نهٔ ؤ له هغه نه مخکې هم نور زیات پیغمبران تیر شوي وو،

له بل لورې یوائې زه اشوک کولن یانګ لومړنی کشیش اوقس نه یم چې اسلام مې راوړی دی زما څخه مخکې ډېر کشیشان او راهبان مسلمانان شوي دي چې له هغې ډلې څخه یو د مکارنه د کانفرانس عمومي منشي او د ختیځو هیوادونو د کاتولیک کلیسا د کشیشانو رییس هم دی چې اسلام یې قبول کړی دی

پوښتنه: اوس چې تاسو يو مسلمان داعي او ښوونکی او مخکې يو نصراني او مسيحي داعي وی د دې دواړو ترمنځ څه توپير ګورئ؟

ځواب: مخکې به زما دا هيله وه چې کوم مسلمان مسيحې کړم او له خپل دين څخه يې وګرځوم سره له دې که هغه فاسد هم شي او ټول ناروا او حرام کارونه سرته ورسوي دې خبرې څه اهميت نه درلوده چې مسلمان سړی دې په ټولنه کې نيک او صالح وي ځکه چې کليسا هيڅکله هم خلک ديندارۍ او نيکو اعمالو ته نه رابولي او هغې ته هيڅ توجه او پاملرنه هم نه کوي يوائې په دې کوښښ کوي چې څوک د مسيحيت سره تړوا ولري دا په کې شرط نه دی چې هغه ديندار او د دين پابند وي حال دا چې اسلام کې يو مسلمان په کوچنيو او لويو دواړو محاسبه کېږي چې هرڅوک داخلېږي بايد روغه او سمه عقيده ولري او په عباداتونو باندې کلک وي.

پوښتنه: څرنګه چې مسلمان د تنصيري فعاليتونو مخالفت کوي او پرې انتقاد نيسي خو بيا هم خپله په ن ورو ټولنو کې خلک اسلام ته رابولي ددې دوه مخې توب دليل څه دی؟

ځواب: د اسلام لورې ته رابللو او مسيحيت ته په رابللو کې ډېر توپير او تفاوت وجود لري مسلمان داعيان د اسلام اصول، عقيدې او نوري زده کړي بيانوي او د هغوی نه د اسلام اصلي او رښتيني شکل او صورت وړاندې کوي خو هيڅوک هم اسلام ته په داخليدو باندې نه مجبوروی ځکه چې څوک د زړه له اخلاصه او په خپل قناعت سره عبادت ونه کړي او اسلام وه نه مني د هغه هيڅ عمل او عبادت سم نه دی او هيڅ ګټه نه لري هغه کسان چې مسيحيت ته خلک رابولي هيڅ

وخت چاته قناعت نه شي ورکولای ځکه چې په ننی نړۍ کې د مسیحیت اصلي دین وجود نه لري کوم شی چې هغوی کوي پر هغې لوی او غټې مالي بودیجې مصرفوي هغه اسلامي خیریه ټولنې چې کار کوي هغوی هیڅکله هم د خپلو کومکونو څخه داسې کارنه اخلي چې څوک په زوره مسلمان کړي بلکې هغوی د خلکو مشکلات حلوي او د هغوی دین په نظر کې نه نیسي او د خوراک په بدل کې ور څخه خپل دین اخلي

پوښتنه په اسلامي د عوت او بلنه کې اوس ستاسو رول او اهمیت څه دی؟

ځواب مونږ په لس ګونو زره نوی مسلمانان چې اسلام ته داخل شوي د خپلو کوښښونو په وسیله په اسلامي یووالي او وحدت کې سره منظم کړی او د هغوی پالنه مو په غاړه اخستي ده په دې نوو مسلمان شویو کسانو کې پوهان، علماء پوځي افسران او مامورین شامل دي چې د ټولنې په ټولو اړخونو کې کار او فعالیت کوي مونږ د هغوی لپاره د قران کریم مرکزونه او مدارس جوړوو په اوسنې وخت کې ۱۲۰۰۰ نوي مسلمان شوي نارینه او ښځې د قران کریم په حلقو کې شامل شوي چې حلقه ۳۰۰-۴۰۰ پورې کسان لري چې د قران مجید حفظ او زده کړه کوي ددې ترڅنګ د نبوي احادیثو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او اسلامي فقه مطالعه کوي مونږ په افریقا کې د رهبرۍ او قیادت کسانو نه جدي پاملرنه اړولي چې په هغې کې د قبایلو رهبران او باچاهان شامل دي که دا دقیادت کسان ایمان راوړي نو د هغوی پیروان به هم اسلام قبول کړي مونږ ګورو چې د

سوډان په جنوب کې زيات مسيحان هغه کسان دي چې انګريزانو په خپل وخت کې د مسلمانو کورنيو څخه جلا کړي وو او هغوی يې مسيحان کړي زموږ هلې ځلې دا دي چې د اخلک بيرته اسلام ته راوبولو او په خپل اصلي دين کې يې شامل کړو.

پوښتنه: په اخر کې خپل هغه پيغام چې اسلامي امت ته يې رسول غواړي څه دی؟

ځواب: غواړم خپلو ورونو ته ووايم په تحقيق سره تاسې ته الله جل جلاله يو لوی نعمت اسلام در بخښلی تاسې دا نعمت هيڅکله لاسه ورنه کړئ او نه په هغې کې له افراط څخه کار واخلئ ځکه چې اسلام يو حقيقي سرمايه او پانګه ده که اسلام مو په خپل ژوند کې عملي کړ نو قوت او ځواک به مو خپل شي لوی ديځ به تاسو څخه ډار او ويره ولري ستاسو لپاره ترټولو مهم او ضروري کار د علم او پوهې لاس ته راوړل دي ځکه چې پرته له پوهې او علم څخه د باطل د پروګرامونو او دسيسو مقابله نه شي کيدای زما له نظره که مسلمانان لس فيصده اسلام هم په خپل ژوند کې عملي کړي نو په لوی ديځ به مادي او روحي پورته والی تر لاسه کړی چې په نتيجه کې به يې ټولي ستونزي او مشکلات حل شي او که ټول دين په خپل ژوند کې عملي کړو بيا خو به هر څه زموږ سره وي.

پای